# <u>مطبوعاتي اعلاميه</u>

## مونږ به څنګه د الله سبحانه و تعالی رضایت او د رسول صلی الله علیه وسلم د شفاعت وړ وګرځو، که چیرې مونږ له روسیې سره ګډ نظامي تمرینونه تر سره کړو، چا چې په بې رحمۍ سره د سوریې مسلمانان بمبارد کړل، پر هند یې وسلې وپلورلې او د ازربایجان د مسلمانانو پر وړاندې یې له ارمنستان سره مرسته وکړه؟

د روسیې ځانګړو ځواکونو د ۲۰۲۰م کال، د نومبر په ۵مه، د دوو اونیو لپاره د ګډو نظامي تمرینونو "DRUZHBA 5" په خاطر پاکستان ته راغلل، تر څو په جنګ "تروریزم" کې تجربې سره شریکې کړي، چې دا وروستي تمرینونه وروسته له یو کال څخه چې د سوریې مسلمانان د روسیې تر بمباریو لاندې ښځ شول لومړنی پیل و. که څه هم دا ګډ تمرینونه د دې لامل کیږي چې کمزوری دولت له پیاوړي دولت څخه ګټه واخلي او په عملي توګه هغه مستعمره حکومت ته اجازه ورکوي چې د پیاوړي حکومت نظامي وړتیاوو ته لاسرسی پیدا کړي، د دوی د جنګي تکتیکونو په اړه پوه شي، نیمګړتیاوې، کمزورتیاوې او همدا راز د پرمختګ لامل یې وپیژني، په سیمه کې نفوذ ومومي او د خپلو وسلو او وړتیاوو څخه وېره خپره کړي. سربیره پردې، دا نظامي تمرینونه خو له کافرو روسانو سره دي، چې لاسونه یې د سوریې د مسلمانانو په وینو سره دي، هغه کفار چې نوې وسلې یې د مسلمانانو پر سرونو وازمویلې. دا خو هماغه روسیه ده چې په دې وروستیو کې یې د یوولسم ځل لپاره زمونږ له دښمن هند سره ګډ نظامي تمرینونه(INDRA) وکړل او تر څنګ یې S-400 میزایل سیستم هم پر هندو حکومت خرڅ کړ. دا خو هماغه روسیه ده چې په سلګونو زره د افغانستان مسلمانان یې شهیدان کړل او همدارنګه د چیچنیا، قفقاز او خپله د روسې پر مظلومو مسلمانانو یې ډېر بې رحمه ظلمونه وکړل. دا خو هماغه روسیه ده چې د ازربایجان د مسلمانانو پر وړاندې یې د امریکا یې نظامیانو ملاتړ وکړ. نو د دغه ترهګر حکومت کومه شریکه شوې تجربه به مونږ پیاوړي کړي چې د دوی ټول جنګ د مسلمانانو او اسلام پر سر دی؟!

**ای د پاکستان مسلمانو نظامي ځواکونو!** څنګه دغه قوانینو تاسې دې ته اړ کړلی چې په دومره نړۍ کې له دې ظالمانو سره یو ځای ګډ نظامي تمرینونه ترسره کړئ؟ ایا د کشمیر ازادول د تاسی لپاره غوره نظامي تمرین نه و، چې تاسې به ښایي په غازي او یا هم شهید کیدلو سره خورا ډېر اجر تر لاسه کړی و؟ نو تاسي به څنګه عمل کوی کله چې د باجوه-عمران رژیم ستاسې مخه ونیسي، په داسې حال کې چې د هند حکومت اشغال شوی کشمیر خپل کړي؟ له دې چټل سیاسي او نظامي رهبرۍ څخه ځانونه ازاد کړئ چې د غربي موخو لپاره وفاداره او صادق دي، خو د اسلام د هغه قوي تصویر څخه بې خبره دي چې تل به یې غښتلي دښمنانو ته ماتې ورکوله.

ځنګه هغه روسیه موږ ته شجاعت او جنګ را زده کولی شی چی د افغانستان او پاکستان د مسلمانانو په وسیله ټوټه ټوټه شوه؟ سربیره پردی چې د مرکزي اسیا او له هغه ځخه د باندې حکومتونو د مسلمانانو په واسطه ځوریږی چی غواړي د هغوی په قلمرو کی خلافت جوړ کړي. چی ښایي یوه پیاوړې او اساسي برنامه وي چې روسیې ته پر مسلمانانو باندې د بې رحمه ظلمونو پر وړاندې یو غاښ ماتوونکی ځواب ورکړی، چی ان په کرملین کی یی د پوتین او د هغه د ملګرو په زړونو کی سخت ډار اچولی دی او همدا راز د سپینی ماڼی او د Ten Downing Street د اشغال د پای ته رسولو لپاره به دا یو پیل وي ، اې د خالد بن ولید زامنو، دا امت د تاسی امر ته منتظر دی، نو اوس حرکت وکړئ او د الله سبحانه وتعالی دا ژمنه تاسو ته انتظار باسي. الله سبحانه وتعالی فرمايي:

**[ٱلَّذِينَ يَتَّخِذُونَ ٱلْكَافِرِينَ أَوْلِيَآءَ مِن دُونِ ٱلْمُؤْمِنِينَ أَيَبْتَغُونَ عِندَهُمُ ٱلْعِزَّةَ فَإِنَّ ٱلعِزَّةَ لِلَّهِ جَمِيعاً]**

"هغه کسان چی مومنان پریږدي، له کافرانو سره د دوستی اړیکی ټینګوی، ایا دا خلک د عزت د لاس ته راوړلو لپاره هغوی ته ورځي؟ په داسې حال کی چی هر راز عزت یوازې د الله سبحانه و تعالی لپاره دی". [نسأ: ۱۵۹]

**د حزب تحریر۔ ولایه پاکستان مطبوعاتی دفتر**

**۱۴۴۲ هـ.ق کال، د ربیع الاول ۲۲مه**

**۲۰۲۰م کال، د نومبر ۸مه**

**د صدور ګڼه: ۱۴۴۲/۲۷**